
د سوال او جواب په بڼه

# د قرءان کريم لنډ معلومات

راځئ چې د الهي کتاب په اړه لنډ معلومات زده کړو



## ليکونکی: محمد اسحاق تميم

## د کتاب په اړه:

د کتاب نوم: د قرءان په اړه لنډ معلومات

لیکونکی: محمد اسحاق تمیم

کمپوز: محمد اسحاق تمیم.

کال: ۱۳۹۸هـ ش - ۱۴۴۰ هـ ق

ادرس: کندهار افغانستان

برېښنالیک: mishaqthamim@gmail.com

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم .

الحمد للّٰه رب العلمین و الصلوة و السلام علی محمد رسول اللّٰه.

**ډالۍ:**

هر مومن او مومني ته چې د قرءان مینه یې زړه کې د تل لپاره وي.

**یادونه:** خپلو ماشومانو ته یې د سوال او جواب په بڼه ور زده کولای سئ.

## بسم الله الرحمن الرحيم

۱- پوښتنه: قرءان کريم د چا کتاب دی؟

ځواب: د الله جل جلاله کتاب دی.

۲- پوښتنه: قرءان کريم پر کوم پيغمبر نازل شوی دی؟

ځواب: پر محمد صلی الله عليه و سلم نازل شوی دی.

۳- پوښتنه: محمد صلی الله عليه و سلم څوک دی.

ځواب: د الله تعالی وروستنی نبي او رسول دی.

۴- پوښتنه: قرءان کريم د الله له طرفه و محمد عليه السلام ته د چا په واسطه نازل شو.

ځواب: د جبرائيل عليه السلام په واسطه نازل شو.

٥- پوښتنه: جبرائیل علیه السلام څوک دی؟

ځواب: د اللّٰه تعالی یوه لویه او مُقربه ملائکه ده.

٦- پوښتنه: د قرءان کریم نزول څه وخت پیل شو؟

ځواب: کله چې محمد صلی اللّٰه علیه و سلم د ۴۰ کالو شو.

٧- پوښتنه: د قرءان کریم لومړي ایاتونه  چیري نازل شوه؟

ځواب: په غار حِرا کې نازل شوه.

٨- پوښتنه: غار حرا چیري دی؟

ځواب: غار حرا په مکه مکرمه کې دی.

٩- پوښتنه: په غار حرا کې ولي لومړي ایاتونه نازل شوه؟

ځواب: ځکه چې محمد صلی اللّٰه علیه و سلم هلته د عبادت دپاره تللی و.

۱۰- پوښتنه: اول کوم اياتونه نازل شوه؟

ځواب: د سورة العلق لومړني اياتونه نازل شوه.

۱۱- پوښتنه: قرءان کريم ټوله په يو وار نازل شو؟

ځواب: قرءان کريم په وار ، وار لږ، لږ نازليدی.

۱۲- پوښتنه: قرءان کريم په څو کاله کې بشپړ نازل شو؟

ځواب: قرءان کريم په ۲۳ کاله کې بشپړ نازل شو.

۱۳- پوښتنه: قرءان کريم د څه لپاره نازل شوی دی؟

ځواب: د انسانانو د لارښووني لپاره نازل شوی دی.

۱۴- پوښتنه: په قرءان کریم کې د څه په اړه بحث کېږي؟

ځواب: د توحید ، رسالت ، قیامت ، قیصې او احکامو بحث کېږي.

۱۵- پوښتنه: توحید څه ته وايي؟

ځواب: توحید د الله تعالی یوازې والي ته ویل کېږي چې د الله تعالی سره بل څوک شریک نسته او د ټولو مخلوقاتو پېدا کونکی هم یوازې الله دی.

۱٦- پوښتنه: رسالت څه ته وايي؟

ځواب: رسالت لېږلو ته وايي،  په قرءان کې د انبیاءو رسالت بیانېږي چې دوی الله تعالی خلګو ته د لارښووني لپاره لېږلي وه.

۱۷- پوښتنه: قیامت څه ته ویل کېږي.

ځواب: قیامت د انسانانو او پېریانو بیا راژوندي کولو او د هغوی سره د حساب کولو ورځي ته وايي.

**۱۸- پوښتنه: د چا قيصې په قرءان کريم کې بيانيږي؟**

**ځواب: د مخکنيو خلګو هغه قيصې چې عبرت ور پکښې پروت وي په قرءان کريم کې د هغوی د کړونو قيصې د تشويق او يا هم د عبرت لپاره بيانيږي.**

**۱۹- پوښتنه: احکام څه ته ويل کيږي؟**

**ځواب: اللّٰه تعالی چې د کومو کارونو کولو او يا نه کولو امر خلګو ته په قرءان کې کوي ، هغه ته احکام وايي.**

**۲۰- پوښتنه: قرءان کريم څو برخي (پارې) دی؟**

**ځواب: قرءان کريم ۳۰ دېرش برخي (پارې) دی.**

**۲۱- پوښتنه: څو سُورتُونه لري؟**

**ځواب: قرءان کريم ۱۱۴ يو سل او څوارلس سورتونه لري.**

۲۲- پوښتنه: قرءان کریم په کوم سورت را پیلیږي؟

ځواب: په سُوْرَةُ الْفَاتِحَة را پیلیږي.

۲۳- پوښتنه: قرءان کریم په کوم سورت پای ته رسیږي؟

ځواب: په سُوْرَةُ النَّاس پای ته رسیږي.

۲۴- پوښتنه: د قرءان کریم تر ټولو اوږد او لوی سورت کوم سورت دی؟

ځواب: سُوْرَةُ الْبَقَرَة سورت تر ټولو سورتونو غټ دی.

۲۵- پوښتنه: د قرءان کریم تر ټولو کوچنی او لنډ سورت کوم دی؟

ځواب: سُوْرَةُ الْكَوْثَر سورت تر ټولو کوچنی سورت دی.

۲٦- پوښتنه: قرءان کریم ټول څو ایاتونه لري؟

ځواب: ٦٢۳٦ شپږ زره دوه سوه شپږ دیرش ایاتونه لري.

۲۷- پوښتنه: د قرءان کریم زده کړه څنګه ده؟

ځواب: هر مسلمان مكلف دی چې قرءان زده كړي تر څو د قرءان الفاظ سم ووايي او په معنا يې وپوهېږي.

۲۸- پوښتنه: قرءان كريم په څه ډول بايد تلاوت يعني وويل سي؟

ځواب: په تجويد سره ، تر څو د قرءان توري په سمه توګه ادا كړي.

۲۹- پوښتنه: د قرءان كريم غلط ويل څنګه دي؟

ځواب: غلط ويل يې غټه ګناه ده او معنا يې هم غلطېږي.

۳۰- پوښتنه: د قرءان كريم صحيح او سم تلاوت كول څومره ثواب لري؟

ځواب: په صحيح ويلو سره يې ثواب دا دی چې په هر حرف يعنی توري ويلو سره الله تعالی انسان ته لس نيكۍ يعنی ثواب وركوي.

۳۱- پوښتنه: قرءان كريم ته په څنګه حالت لاس وروړل كېږي؟

**ځواب:** په پاک بدن او اوداسه درلودلو سره انسان کولای سي چې قرءان کریم مسه کړي.

**۳۲- پوښتنه:** کوم انسان چې قرءان مني او د هغه لارښووني عملي کوي ، هغه انسان ته څه ویل کیږي؟

**ځواب:** هغه انسان ته مسلمان او مومن ویل کیږي.

**۳۳- پوښتنه:** کوم انسان چې قرءان مني خو لارښووني یې نه عملي کوي، دا کوم ډول انسان دی؟

**ځواب:** داسې انسان ګناه کاره او فاسق دی.

**۳۴- پوښتنه:** کوم انسان چې قرءان نه مني، هغه کوم ډول انسان دی؟

**ځواب:** داسې انسان کافر دی.

۳۵- پوښتنه: انسان په خپل ژوند ، کورنۍ او ټولنه کې باید کوم قانون عملي کړي؟

ځواب: د هر څه لپاره باید لازمي د قرءان قانون عملي سي.

۳٦- پوښتنه: که څوک د قرءان احکام او قوانین نه جاري کوي هغه انسان څوک دی؟

ځواب: هغه انسان فاسق او ډېر غټ مجرم دی.

۳۷- پوښتنه: مکي سورتونه څو او مدني سورتونه څو دي؟

ځواب: مکي سورتونه ۸٦ او مدني سورتونه ۲۸ دي.

۳۸- پوښتنه: مکي سورت کوم سورت ته ویل کیږي؟

ځواب: هغه سورت چې د نبي عليه السلام و مدينې منورې ته تر هجرت کولو مخکې نازل سوی دی، هغه ته مکي سورت ويل کېږي.

۳۹- پوښتنه: مدني سورت کوم سورت ته ويل کېږي؟

ځواب: هغه سورت چې د نبي عليه السلام و مدينې منورې ته تر هجرت کولو وروسته نازل سوی دی، هغه ته مدني سورت ويل کېږي.

۴۰- پوښتنه: د قرءان کريم وروستنی او اخري کوم سورت نازل سو؟

ځواب: سُوْرَةُ النَّصْر سورت اخرنی سورت دی چې نازل سو.

۴۱- پوښتنه: د قرءان کريم اداب کوم دي؟

ځواب: د قرءان کريم په لاندې ډول دي:

۱- قرءان کريم ته په اوداسه کښېنستل.

۲- قرءان كريم ته په پاكو جامو كښېنستل.

۳- قرءام كريم ته په خشوع يعني عاجزي سره كښېنستل.

۴- د قرءان كريم د تلاوت كولو په مينځ كې خبري نه كول.

۵- د تلاوت د پيل مخكي اعوذ بالله ويل لازمي دي.

٦- د قرءان تلاوت د قرءان د پاڼو د مخ څخه كول.

۷- په راسته لاس د قرءان را اخيستل.

۸- د قرءان لوړ پښه اړول يا را اړول بايد و نسي ، بې ادبي ده.

۹- د قرءان تلاوت كولو په وخت تكيه نه وهل.

۱۰- په قرءان باندې خطونه نه ليكل.

۱۱- د قرءان په اياتونو کې فکر کول او د هغوی لوی والی په زړه راوستل.

۱۲- حقيقي ادب يې دا دی چې د قرءان په لارښوونو عمل وسي.

**۴۲- پوښتنه:** قرءان بايد هره ورځ وويل سي او که نه؟

**ځواب:** بايد هره ورځ د قرءان کريم تلاوت وسي.

**۴۳- پوښتنه:** ايا قرءان شفاعت کولای سي.

**ځواب:** هو! هغه انسان چې د قرءان تلاوت کوي او لارښووني يې عملي کوي، قرءان د هغه انسان شفاعت په اخرت کې کوي.

**۴۴- پوښتنه:** د قرءان کريم د ساتني ذمه چا اخيستې ده؟

ځواب: الله جل جلاله يې د حفاظت وعده کړې ده.

۴۵- پوښتنه: کله چې د قرءان تلاوت شروع وي، مورږ ته څه پکار دي؟

ځواب: مورږ ته پکار ده چې ضرور غوږ ورته ونيسو او خبري و نکړو.

۴٦- پوښتنه: تر ټولو ښه ذکر کوم ذکر دی؟

ځواب: د قرءان کريم تلاوت کول تر ټولو غوره ذکر دی.

۴۷- پوښتنه: د غمجن ، سخت او نا ارامه زړه او فکر ته ښه دوا څه شی ده؟

ځواب: د قرءان کريم تلاوت کول د زړه او فکر لپاره تر ټولو غوره درمل دی.

**۴۸- پوښتنه:** د خوشهاله ژوند او نېکمرغه کورنۍ جوړولو لپاره کوم شی ډېر مهم دی؟

**ځواب:** د قرءان کريم تلاوت او په هغه عمل کول د خوشهاله ژوند لپاره تر ټولو غوره لار ده.

**۴۹- پوښتنه:** ايا قرءان په قبر کې د انسان ملګری کېدای سي؟

**ځواب:** هو! هغه انسان چې قرءان تلاوت کوي او عمل پرې کوي، قرءان به په قبر کې د هغه انسان ملګری وي.

**۵۰- پوښتنه:** د قرءان کريم د فضيلت په اړه څو حديثونه راته ووايه!

**ځواب:** لاندې څو صحيح احاديث دي:

۱ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَ عَلَّمَهُ. -بخاري-

ژباړه: له تاسو څخه غوره هغه څوک دی چې قرءان زده کړي او بیا قرءان بل چا ته ور وښیي.

۲- ابوهریرة رضي اللّٰه عنه وایي چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم وفرمایل: تاسو د خپلو کورونو څخه هدیرې مه جوړوئ! په کوم کور کې چې سورة البقرة ویل کیږي ، هغه کور ته شیطان نه داخلیږي. ترمذي

۳- ابو امامة رضي اللّٰه عنه وایي: ما د رسول اللّٰه علیه السلام څخه واورېدل چې ویل یې: قرءان وایاست! بې شکه چې دغه قرءان به د قیامت په ورځ د خپلو ملګرو شفاعت کوي. رواه مسلم

۴- هغه نس چې په هغه کې د قرءان څخه څه شی نه وي ، هغه د خرابه کور مثال لري. رواه ترمذي.

نور بې شماره احاديث هم د قرءان اړوند راغلي دي، دلته په همدې څو احاديثو بسنه کوو.

و بالله التوفيق و عليه توکلنا و صلی الله علی نبينا و حبيبنا محمد مصطفی.

پای.

تاريخ: ۱/۸/۱۳۹۸ هـ ش ۲۴/صفر/۱۴۴۱

په نيکو دعاګانو کې ما او زما کورنۍ مه هېروئ.

عاجز او محتاج الی الله بنده محمد اسحاق تميم